## د رسنیو کمیټې مطبوعاتي کنفرانس ترسره کړ

روان کال د میزان په ۶مه نیټه، د ټاکنیزو سیالیو د پیلیدو سره سم د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رسنیو کمیټې په مرکزي دفتر کې له رسنیو سره مطبوعاتي کنفرانس ترسره کړ.



د رسنیو کمیټې رئیس محمد رفیع رفیق صدیقی له خبریالانو څخه د منني ترڅنګ وویل د سرغړونکو کاندیدانو د وخت څخه مخکې کمپاین کولو له امله چې ژمنه شوې وه نن یې له رسنیو سره لیست شریک کیږي چې شمیر یې ۵۲ تنو ته رسیږي. ښاغلي صدیقي وویل دغه لیست چې ددې کمیټې له لوري تصویب شوی هم دی د کمیسیون وبسایټ ته پورته شویدی.

هغه د کاندیدانو د ټاکنیزو سیالیو د ځار د ډیریښت لامل پدې بهیر کې د دریو اساسي اصولو (دقت، توازن او بیطرفي) رعایت یاد کړ. ښاغلي صدیقي ټاکنیزو جرایمو ته په اشارې، دې کمیټې ته لاندیني موارد سره کرښه وګڼله او له کاندیدانو یې وغوښتل چې رعایت یې کړي:

- کاندیدان په رسنیو کې د کمپاین پر مهال، باید د حکمي او حقوقي شخصیتونو له سپکاوي ډډه وکړي.

- د ټاکنیز کمپاین پر مهال داسې څرګندونې او ویناوې ونکړي چې ملي یووالی او د زغم روحیه کمزورې کړي.

- له رسنیو غوښتنه کیږي چې خپلو پروګرامونو ته د کاندیدانو د بلنې په برخه کې ټاکنیز قوانین او کړنلارې په منصفانه توګه په پام کې ونیسي.

همدارنګه، د رسنیو کمیټې په مرکز او ولایتونو کې د ټاکنیزو سیالیو څخه د څارنې او پدې اړه د څیړنې له دوام څخه خبر ورکړ او زیاته یې کړه چې د سرغړونکو لیست به ددې بهیر په پای کې له رسنیو سره شریک کړي.